RAWADARI · رواداری



# د هدفي او محاكمې پرته وژنې

## په کندهار، پنجشیر، ننگرهار او سرپل

اگست ۲۰۲۱ - نومبر ۲۰۲۲

rawadari.org



## فهرست


| | |
|---|---|
| سریزه | ٤ |
| د معلوماتو راټولولو طریقه | ٤ |
| د راپور تشریح | ٥ |
| په کندهار ولایت کې هدفي او مرموزې وژنې | ٥ |
| ننگرهار ولایت کې مرموزې او له محاکمې پرته وژنې | ٦ |
| د مرموزو او له محاکمې پرته وژنو څو بېلگې | ٧ |
| پنجشېر ولایت کې له محاکمې پرته وژنې | ٨ |
| له محاکمې پرته د وژنو څو بېلگې | ٩ |
| د سرپل ولایت کې له محاکمې پرته وژنې | ٩ |
| ملکي خلکو وژنه | ١٠ |
| پایله | ١١ |




## سریزه

د ۲۰۲۱ کال د اگست پر ۱۵مه نېټه افغانستان د لوی بدلون شاهد و. د افغانستان اسلامي جمهوري نظام له طالبانو سره له شل کاله جگړې او شخړې وروسته بالاخره سقوط وکړ، او طالبان له نظامي لارې په زور پر افغانستان مسلط شول او د هیواد چارې یې په لاس کې ونیولې. دې ډلې «د افغانستان اسلامي امارت» بنسټ کېښود او په لومړي اقدام کې یې د عمومي عفوې فرمان صادر کړ او ډاډ یې ورکړ چې د تېر دولت نظامي او ملکي کارکوونکو ته به خوندیتوب ورکوي. که څه هم د دې فرمان صادرېدو په افغانانو کې نسبي ډاډ رامنځته کړ، خو ډېر وخت تېر نشو چې د طالبانو چلند او د بشر حقونو وضعیت داسې پر مخ ولاړ چې د خلکو خوش‌بیني او اعتماد پر مایوسي او ناهیلی بدل شول.

له بل پلوه، په تېرو پنځلسو میاشتو موده کې، طالبانو شته قوانین او په سر کې یې اساسي قانون چې د هیوادوالو د اساسي حقونو او آزادیو تضمینوونکی و، لغوه اعلان کړل، او په همدې ترتیب، جوړښتونه او بنسټونه چې د اساسي قانون پر بنسټ جوړ شوي ؤ له منځه لاړل او د افغانانو د بشري حقونو د ملاتړ او ساتنې قانوني ضمانتونه له منځه لاړل. او د نړیوالې ټولنې او نورو ملي او بین المللي څارونکو بنسټونو د حضور د نشتوالي له امله، طالبانو له هر ډول ځواب ویلو څخه د مصئونیت احساس کړی. په واقعیت کې، د ۲۰۲۱ کال په اگست کې واک ته د دې ډلې له راستنېدو څخه تر اوسه پورې هیڅ میکانیزم نه و چې دوی د بشر حقونو او د نړیوال بشرپالو حقونو د منل شویو اصولو پر رعایت مکلف او ملتزم وگرځوي.

د رواداري بنسټ موندنې ښیي چې په تېرو پنځلسو میاشتو کې د بشر حقونو سرغړونې، په عامه بڼه د ژوند د حق سرغړونې، او په ځانگړي ډول له محاکمې پرته وژنې مخ په زیاتېدو وې؛ په ټول افغانستان کې سلگونه هیوادوال په ځانگړي ډول په کندهار، پنجشېر، ننگرهار او سرپل ولایتونو کې له محاکمې پرته، په هدفي او مرموز ډول د طالبانو د ځواکونو او نامعلومو کسانو له خوا وژل شوي دي. د رواداري د موندنو پر بنسټ، په کندهار، پنجشېر، ننگرهار او سرپل ولایتونو کې د دا ډول پېښو شمېر د نورو ولایتونو په پرتله زیات دی، او په همدې دلیل، دا راپور په یادو ولایتونو کې د ۲۰۲۱ کال له اگست څخه د ۲۰۲۲ کال تر نوامبر میاشتې پورې  د ژوند د حق، او له محاکمې پرته د وژنو ارزونه کوي.

## د معلوماتو راټولولو طریقه

رواداري بنسټ پر هیواد د طالبانو له مسلط کېدو سره همماهاله او اطلاعاتو ته د لاسرسي په برخه کې له شته ننگونو او ستونزو سره سره، د بشر حقونو وضعیت په تېرو پنځلسو میاشتو کې په منظم او پرله پسې توگه څارلی، او سیمه ییزو سرچینو ته په مراجعې سره رواداري بنسټ توانېدلی چې د هدفي او له محاکمې پرته وژنو په برخه کې د اعتبار وړ اطلاعات ترلاسه کړي. له همدې امله، په دې رپوټ کې راغلې موندنې او معلومات په کندهار، پنجشېر، ننگرهار او سرپل ولایتونو کې له عینې شاهدانو، د قربانیانو کورنیو او خپلوانو، د بشر حقونو مدافعانو او د رسنیزو فعالانو سره د مرکو له لارې راټول شوي دي. د خصوصي حریم د ساتنې او د امنیتي ملاحظو له امله، په دې راپور کې د مرکه شویو او سیمه ییزو سرچینو اړوند  د نومونو له ذکر کولو او لا نورو جزئیاتو ورکولو څخه ډډه شوې ده.

## د راپور تشریح


د رواداري موندنې ښيي چې پر هيواد د طالبانو له مسلطېدو وروسته، د ۲۰۲۱ کال د اګست له ۱۵مې څخه د ۲۰۲۲ کال تر نوامبر پورې، ټول ٦٣٤ تنه ملکي وګړي، د تېر حکومت نظاميان، سلفيان، د «ملي مقاومت جبهې» غړي او نورې مخالفې ډلې په کندهار، پنجشېر، ننګرهار او سرپل ولايتونو کې د طالبانو د ځواکونو او ناپېژاندو کسانو له خوا وژل شوي دي.

## په کندهار ولايت کې هدفي او مرموزې وژنې

کندهار د افغانستان د يو مهم او کليدي ولايت په توګه تل د هيواد په کچه پر مهمو سياست ټاکنو کې اغېزناک و، او اساسي نقش يې درلودلی دی. لکه څنګه چې د طالبانو د حاکميت په دواړو دورو کې دا ولايت د طالبانو د پخواني او اوسني رهبر د اوسېدو ځای او د لويو سياسي تصميم نيونو مرکز و. له بل پلوه، د کندهار ولايت ټولنيز جوړښت هم ډېر پېچلی ښکاري، څکه دا ولايت له پخوا راهيسې د هدفي تروريستي اقداماتو او بېلابېلو ډلو د فعاليت شاهد و، چې دا مساله په دې ولايت کې د پراخ بشري حقونو د سرغړونو باعث شوې. البته د قومي متنفذينو، ټولنيزو فعالانو او خبريالانو، ديني عالمانو او نورو ملکي خلکو د هدفي وژنو په برخه کې د بشر د حقونو د سرغړونی ادعاوې د جمهوريت په دوره کې هم موجودې وې.

رواداري پر افغانستان د طالبانو له مطلق حاکميت له وخته د کندهار ولايت پرله پسې څارنه هم کړې ده، او توانېدلې چې د هدفي او له محاکمې پرته وژنو اړوند ځينې قضيې په دې ولايت کې مستندې کړي.

زموږ موندنې ښيي چې لا هم د دې قضيو ډېری عاملان نامعلوم دي. له بل پلوه، طالبانو هم په څه ډول چې پکار وه د مرتکبانو د نيولو لپاره اقدام نه دی کړی او دې مسالې هغه ادعاګانې پياوړې کوي چې ممکن چې په يو شمېر قتلونو او هدفي وژنو کې د طالبانو اړوند کسان لاس ولري. سربېره پر دې، د رواداري د موندنو پر



بنسټ، د غچ اخستلو او شخصي دښمنيو انګېزه هم په دې قتلونو کې مهمه ونډه لري، نو يو شمېر خلک د غچ اخستلو او شخصي دښمنيو له امله هم وژل شوي دي. د يادونې وړ ده چې طالبانو تر اوسه د خپلو اقداماتو پايلې په کندهار ولايت کې د هدفي او له محاکمې پرته وژنو د مخنيوي په برخه کې نه دي شريکې کړې، په داسې حال کې چې په دې پېښو کې سلګونه تنه قرباني شوي دي او دا مساله لا هم دوام لري.

رواداري د طالبانو له خوا د کندهار ولايت د نيولو له لومړيو ورځو څخه د دې ولايت د بشري حقونو وضعيت څارلی او هڅه يې کړې چې په منظمه او دوامداره توګه د بشر حقونو د سرغړونې موارد و څېړي او مستند يې کړي. د دې قضيو مستندول د طالبانو له خوا د سختو محدوديتونو د وضعه کولو او د وېرې او وحشت د فضا د حاکميت له امله، سخت او ستونزمن کار و، له همدې امله رواداري دا احتمال مني چې له محاکمې پرته د وژنو ارقام، ترور او هدفي وژنې په کندهار ولايت کې له هغو شمېرو ډېرې زياتې وي چې په دې راپور کې راغلي دي.

د رواداري موندنې ښيي چې د ۲۰۲۱ کال له اګست مياشتې څخه د ۲۰۲۲ کال د نوامبر مياشتې تر پايه د ۷ ښځو او ۱۰ ماشومانو په ګډون ۳۲۰ تنه په هدفي توګه او له محاکمې پرته وژل شوي دي، او د ۱۲ ښځو او ۵ ماشومانو په ګډون ۹۵ تنه نور ټپيان شوي دي. په دې کې ۲۳ تنه د تېر حکومت نظاميان ( ۱۹ تنه پوليس او ۴ تنه د کندهار د ملي امنيت رياست کارکوونکي) په هدفي توګه وژل شوي دي.

لکه څنګه چې شمېرې ښيي، په کندهار ولايت کې د هدفي وژنو ډېرى قربانيان ملکي خلک دي، خو د دې پېښو د عاملانو او انګېزو په اړه، رواداري تر اوسه نه دی توانېدلی چې کافي معلومات ترلاسه کړي. خو لکه څنګه چې مطرح شوه، په ډېرى قضيو کې د طالبانو د لېوالتيا نشتوالی او غفلت، او هم د هغې د مخنيوي لپاره د لازمو تدابيرو نشتوالی، سربېره پر دې، د قربانيانو کورنيو او نورو سرچينو هم په دې وژنو کې د طالبانو د غړو د ښکېلتيا ادعاوې مطرح کړې دي.

## ننګرهار ولايت کې مرموزې او له محاکمې پرته وژنې

طالبانو د خپل حاکميت په لومړيو ورځو کې په افغانستان کې جګړه پای ته رسېدلې اعلان کړه، او و يې ويل چې په هيواد کې وسله واله شخړه نشته؛ خو په ننګرهار ولايت کې د دوی پر جنګياليو له څو بريدونو وروسته، چې د يو شمير بريدونو مسئوليت د داعش اسلامي دولت د خراسان ولايت په نوم ډلې له خوا ومنل

شو، طالبانو د دې ډلې پر وړاندې پراخ پلټونکې عمليات پيل کړل، په دې عملياتو کې طالبانو نه يوازې د داعش ډلې پر غړيتوب تورن خلک بلکې د خپلې ژمنې خلاف، چې عمومي عفوه يې کړې، د افغانستان د پخواني دولت يو شمېر کارکونکي او د امنيتي ځواکونو منسوبين يې هم تر بريد لاندې نيولي او وژلي دي. سره له دې چې طالبانو د ډېرى دې وژنو مسئوليت پر غاړه نه دی اخستی، خو د چلند ورته والي ته په کتو، پر يو شمېر جسدونو د ليکونو د کېښودو او د دې قضيو د خپرنې او ارزونې په برخه کې د علاقې د نشتوالي او پر دې ولايت د طالبانو پراخ کنترول ته په کتو، هغه ادعاګانې پياوړې کوي چې ممکن چې په يو شمېر قتلونو او هدفي وژنو کې د طالبانو اړوند کسان لاس ولري.

دا چې طالبان د حنفي مذهب پيروي کوي، او له بل پلوه، په ننګرهار کې سلفيان د پام وړ نفوذ لري؛ عقيدتي او ايډيولوژيک اختلافات د دې باعث شوي چې طالبان د سلفيت د مکتب پيروان د داعيشي په تور ونيسي او و يې وژني.

د رواداري موندنې ښيي چې د ۲۰۲۱ کال د اګست له ۲۵مې تر ۲۰۲۲ کال د نوامبر مياشتې تر پايه، د ننګرهار ولايت ۱۰۱ تنه اوسېدونکي په مرموز ډول او له محاکمې پرته وژل شوي دي. له دې څخه ۷۰ تنه له داعش سره د همکارۍ په تور، د ۲ ښځو په ګډون ۱۳ تنه په مرموز ډول په نامعلوم علت، ۳ مدني فعالان او يو خبريال ترور شوي دي. په دې ۷۰ تنو کې چې له داعش سره د همکارۍ په تور وژل شوي، له ۳۱ جسدونو سره يې ليکونو ايښودل شوي، او پکې راغلي، چې دغه کسان له داعش ډلې سره د اړيکو په جرم وژل شوي. د نورو ۷ تنو د مړو په اړه سيمه ييزو طالبانو او يا هم د قربانيانو نږدې خپلوانو تاييد کړې چې د طالبانو له خوا له داعش سره د اړيکو په تور نيول شوي او بيا وژل شوي دي.

**د ۲۰۲۱ کال په اګست کې واک ته د دې ډلې له راستنېدو څخه تر اوسه پورې هيڅ ميکانيزم نه و چې دوی د بشر حقونو او د نړيوال بشرپالو حقونو د منل شويو اصولو پر رعايت مکلف او ملتزم وګرځوي.**

سربېره پر دې، د ۲۰۲۱ کال د اکتوبر پر ۲۹ مه، د طالبانو ډلې یو شمېر غړي د ننګرهار ولایت د سره رود ولسوالۍ په شمشپور کلي کې یو کور ته ننوځي، چې د واده محفل پکې جوړ شوی و، او د کورنۍ پر غړو یواځې په دې دلیل ډزې کوي چې موسیقي یې اورېدله، په پایله کې دوه تنه وژل کېږي او ۱۰ تنه نور ټپیان کېږي. په عین حال کې، طالبانو ومنله چې دا کار د دې ډلې کسانو له خوا ترسره شوی او ظاهراً یې اعلان وکړ چې د دې قضیې اړوند یې خپل دوه تنه نیولي دي.

## د مرموزو او له محاکمې پرته وژنو څو بېلګې

- د ۲۰۲۱ کال د اکتوبر پر ۱۱مه نېټه د ننګرهار ولایت په چپرهار ولسوالۍ کې طالبانو یوه ښځه په دې تور ووژله چې د جمهوریت په وخت کې یې مخکني حکومت ته جاسوسي کوله. د دې ښځې خاوند هم د مخکني حکومت د ملي اردو سرتېری و او له طالبانو سره په مخامخ جګړه کې وژل شوی و.
- د ۲۰۲۱ کال د اکتوبر ۹مه د ننګرهار لپاره یوه خونړۍ ورځ وه. په دې ورځ د ۱۰ تنو مړي د جلال آباد ښار په مربوطاتو کې پیدا شول، چې د ټولو سرونه له تنو بېل شوي ؤ. له دې مړو سره په ایښودل شویو لیکونو کې ویل شوي ؤ، چې دوی له داعش ډلې سره د اړیکو په تور وژل شوي.
- د ۲۰۲۱ کال د اکتوبر پر ۱۲مه او د نوامبر پر ۲مه، مدني فعالان هر یو عبدالرحمن د جلال آباد ښار په څلورمه ناحیه کې، او هجرت الله خوږیانۍ له خپل ورور سره یو ځای په اوومه ناحیه کې د نامعلومو وسله والو کسانو له خوا په ډزو ترور شول. د دې قضیو اړوند هم سیمه ییزو مسئولانو بې تفاوتي وښوده او مرتکبین یې و نه نیول.
- د ۲۰۲۱ کال د اکتوبر پر ۱۳ مه نېټه څلور تنه چې سرونه یې پرې شوي ؤ د جلال آباد ښار په څلورمه ناحیه کې وموندل شول. دا کسان د مخکني حکومت کارکوونکي ؤ او په همدې دلیل وژل شوي دي.ورته مهال د ۲۰۲۱ د اکتوبر پر ۱۶مې په جلال آباد ښار کې ۵ تنه جسدونه وموندل شول. سیمه ییزو سرچینو تایید کړه چې دا افراد له داعش ډلې سره د اړیکو په تور د طالبانو له خوا نیول شوي او په خپلسري ډول په ډزو وژل شوي.
- د ۲۰۲۲ کال د سپتمبر میاشتې په وروستیو کې د طالبانو سیمه ییزو چارواکو، د نورستان ولایت د

> د رواداري موندنې ښیي چې د ۲۰۲۱ کال له اګست میاشتې څخه د ۲۰۲۲ کال د نوامبر میاشتې تر پایه د ۷ ښځو او ۱۰ ماشومانو په ګډون ۳۲۰ تنه په هدفي توګه او له محاکمې پرته وژل شوي دي، او د ۱۲ ښځو او ۵ ماشومانو په ګډون ۹۵ تنه نور ټپیان شوي دي.

مندول ولسوالۍ لپاره د مخکني حکومت د امنیې قوماندان بهرام الدین خان په دې پلمه د لغمان ولایت مرکز ته وربللی و چې د نورستان ولایت له سیلاب ځپلو سره د مرستې په څرنګوالي ورسره مشوره وکړي. طالبانو نوموړی قوماندان نیولی او درې ورځې وروسته یې مړی کورنۍ ته سپارلی. هغه لومړی د طالبانو په بند کې شکنجه شوی او وروسته وژل شوی. د رواداري موندنې ښیي چې دواړه لاسونه او څټ یې مات شوی او د پښو نوکان یې ویستل شوي.


د یادونې وړ ده چې دا یواځې پېښې نه دي او اوس هم د خلکو مړي د ننګرهار ولایت په څنډو او د هیواد په ختیزو ولایتونو کې موندل کېږي؛ خو اطلاعاتو ته د لاسرسي په برخه کې د سختو محدودیتونو په وضعه کولو او د وېرې او رعب د فضا له امله عیني شاهدان او د سیمې خلک جرات نه شي کولای چې د دې پېښو اړوند اطلاعات له چا سره شریک کړي. سره له دې، رواداري توانېدلې چې د یو هدیرې ځای په ننګرهار ولایت کې په نښه او تثبیت کړي، چې هلته هر څو ورځې وروسته د دې ولایت د ښاروالۍ د کارکوونکو له خوا د نامعلومو کسانو مړي خښېږي. له بل پلوه، دا قبر د طالبانو تر سختې څارنې لاندې دی او هیڅوک د دې مړو د هویت په اړه د پوښتنې حق نه لري. پر همدې بنسټ، رواداري هم په دې هدیره کې د دفن شویو مړو د هویت په اړه معلومات نه لري، او په اوسنیو شرایطو کې یې څېړنه او ارزونه ممکنه نه ده.

## پنجشېر ولایت کې له محاکمې پرته وژنې

د ۲۰۲۱ کال د اگست پر ۱۵مه نېټه د کابل له سقوط وروسته طالبانو له پنجشېر ولایت پرته د افغانستان پر ټولو ولایتونو تسلط پیدا کړ. پر پنجشېر ولایت د دې ډلې د برید په پیل سره د طالبانو مخالف یو شمېر شخصیتونه او څېرې دې ولایت ته ولاړل او د طالبانو پر وړاندې یې د مقاومت جبهه تشکیل کړه. د ۲۰۲۱ کال د اگست پر ۲۶مه نېټه د دواړو لورو تر منځ لنډ اوربند اعلان شو او د ۲۰۲۱ کال د سپتامبر پر لومړۍ نېټه د مذاکراتو له ناکامېدو وروسته په دې ولایت کې یو ځل بیا جگړه سخته شوه. د دواړو خواوو تر منځ د جگړې او شخړې په سختېدو، د ملي مقاومت جبهې پر طالبانو د څو بریدونو په ترسره کولو یو شمېر طالبان او د هغوی قوماندانان ووژل، دې بریدونو ته په غبرگون کې طالبانو خپل زیات شمېر سرتېري دې ولایت ته ولېږل او نوي نظامي قوماندانان یې پنجشیر او د بغلان ولایت اندراب ولسوالۍ ته ولېږل. دې قوماندانانو د ملي مقاومت د جبهې پر وړاندې پراخ نظامي عملیات د پنجشېر ولایت په بېلابېلو ولسوالیو او بغلان ولایت کې پیل کړل، چې په پایله کې یې د دې ولایتونو لسگونه تنه د مقاومت جبهې سره د اړیکو په تور و نیول شول او ووژل شول. همدا راز، طالب ځواکونو په څو پېښو کې د مقاومت جبهې لسگونه اسیر شوي یا تسلیم شوي نظامیان هم وژلي دي.

رواداري بنسټ په پنجشېر ولایت کې د وسله والو شخړو سره هممهاله هڅه وکړه چې په منظم ډول په دې ولایت کې د بشر حقونو وضعیت وڅاري. که څه هم د طالبانو له خوا اطلاعاتو ته د لاسرسي په برخه کې محدودیتونو، د یو بل پر ضد د شکېلو غاړو تبلیغاتي جگړه او د وېرې او رعب د فضا حاکمیت، د بشر د حقونو د سرغړونو د  مواردو په اړه د مستندولو او څېړنې کار سخت کړی دی. خو رواداري له ننگونو او ستونزو سره سره توانېدلی چې معتبر سیمه ییزو منابعو ته په مراجعې سره، په دې ولایت کې د بشر حقونو د سرغړونو د مواردو اړوند معتبر او موثق معلومات راټول کړي.

د رواداري موندنې ښیي چې د ۲۰۲۱ کال د سپتامبر میاشتې څخه د ۲۰۲۲ کال د نوامبر میاشتې تر پایه، پر



پنجشېر ولایت د طالبانو له تسلط وروسته ۶۳ تنه د ملي مقاومت جبهې غړي له نیول کېدو یا تسلیمېدو وروسته، او د ۵۰ په شاوخوا کې ملکي وګړي د مقاومت ملي جبهې سره د اړیکو په تور د طالبانو له خوا وژل شوي دي.

## له محاکمې پرته د وژنو څو بېلګې

د رواداري موندنې ښيي چې د ۲۰۲۲ کال د سپتامبر پر ۱۴مه نېټه طالبانو په یوه پېښه کې د ۳۵ په شمېر د ملي مقاومت د جبهې غړي له نیول کیدو وروسته د دره ولسوالی په (عبدالله خېل) کلي کې په ډزو ویشتي. همدا راز، په یو بل مورد کې د ۲۰۲۲ کال د سپتامبر ۱۴مه نېټه د نهو تنو په شمېر کې د ملي مقاومت د جبهې غړي، له هغې وروسته چې طالبانو ته تسلیم شول، د رخه ولسوالی د (لم خاک) په کلي کې وژل شوي دي.

لکه څنګه چې مخکې اشاره وشوه، په دې موده کې د ۵۰ تنو په شمېر ملکي وګړي د ملي مقاومت جبهې سره د اړیکې په تور د طالبانو له خوا وژل شوي دي. د رواداري موندنې ښيي چې طالبانو دغه افراد لومړی شکنجه کړي او بیا یې وژلي دي. که څه هم طالبانو د ملي مقاومت د جبهې د نظامیانو د وژنو په غبرګون کې اعلان وکړ چې دا قضیې به ارزوي او عاملان به یې محاکمه کوي؛ خو تر اوسه یې په دې برخه کې هیڅ اغېزناک اقدام نه دی کړی.

### د عبدالمنیر شکنجه او وژنه

عبدالمنیر د پنجشېر ولایت یو شپون و، چې د ۲۰۲۲ کال د جون پر دویمه نېټه په داسې حال کې چې د پنجشیر ولایت د بازارک ولسوالی اړوند په (ملسپه) سیمه کې یې خپل څاروي څرول، د طالبانو له خوا د ملي مقاومت جبهې سره د همکارۍ په تور و نیول شو. هغه دوه شپې ورځې تر توقیف لاندې و چې د طالبانو د سختو شکنجو په پایله کې ووژل شو.

### د آغامحمد وژنه

۶۵ کلن آغا محمد هم یو شپون و. هغه د ۲۰۲۲ کال د اګست پر ۳۱مه نېټه د پنجشېر ولایت د خنج ولسوالی په مربوطاتو کې په (خارو) سیمه کې د خپلو څارویو د څرولو په حال کې و چې د طالبانو له خوا د ملي مقاومت جبهې سره د همکارۍ په تور ونیول شو، طالبانو لومړی هغه شکنجه او وروسته یې وواژه. طالبان وروسته له هغې چې آغا محمد یې وواژه د هغه جسد یې سیند ته وغورځاوه، چې وروسته د کلي د خلکو له خوا راوویستل شو.

سربېره پر دې، په پنجشېر ولایت کې د دې ډلې د ځواکونو له خوا د ملي مقاومت جبهې د نظامي اسیرانو د وژنې اړوند ویډیو له خپرېدو وروسته، طالبانو خپل جنګیالي د زیرکو ټلفونونو کارولو څخه منعه کړل. د طالبانو دې اقدام شکونه راولاړ کړي چې ممکن د بشر حقونو او د نړیوال بشرپالو حقونو سرغړونې په دې راپور کې د راغلیو پېښو څو چنده زیات وي.

د جنګي بندیانو او نیول شویو کسانو وژنه او شکنجه، د هغو کسانو وژنه او شکنجه چې په شخړه کې یې د جنګېدو توان له لاسه ورکړی، او د ملکي خلکو وژل، د نړیوال بشرپالو حقونو ښکاره سرغړونه دی او د جنګي جرمونو مصداق ګڼل کیږي.

> روادارۍ توانیدلی چې د یو هدیرې ځای په ننګرهار ولایت کې په نښه او تثبیت کړي، چې هلته هر څو ورځې وروسته د دې ولایت د ښاروالی د کارکوونکو له خوا د نامعلومو کسانو مړي خښیږي. له بل پلوه، دا هدیره د طالبانو تر سختې څارنې لاندې دی او هیڅوک د دې مړو د هویت په اړه د پوښتنې حق نه لري.

## د سرپل ولایت په بلخاب ولسوالی کې له محاکمې پرته وژنې

د طالبانو او د سرپل ولایت په بلخاب ولسوالی کې د دې ډلې د یو ناراضي قوماندان مولوي مهدي تر منځ د شخړې له پیښېدو وروسته، د بشر حقونو د سرغړونې او د ملکي خلکو د وژنو ډېر ریوټونه خپاره شول. سره له دې، رواداري بنسټ له جنګي شرایطو او ډېرو محدودیتونو سره سره توانېدلی چې په دې ولسوالی کې د پېښو اړوند دقیق او معتبر معلومات ترلاسه کړي دي.

## ملکي خلکو وژنه

د رواداري د موندنو پر بنسټ، طالبانو د ۲۰۲۲ کال د جون له ۲۰مې تر ۲۱ جولای په موده کې، کم تر کمه ۱۰۰ تنه ملکي وگړي وژلي چې لاندې په لنډه توگه د یو شمېر قضیو یادونه کوو.

د بلخاب ولسوالی د مرکز یو اوسیدونکی روحاني شخص، چې د شخړې له هیڅ لوري سره یې اړیکه نه درلوده، دغې ولسوالی ته د طالبانو د داخلېدو په لومړۍ ورځ، چې هغه په خپل کور کې و، د طالبانو له خوا ووژل شو. طالبانو کور په کور تلاشۍ کې دغه دیني عالم له یو زوی او یو وراره سره یو ځای په ډزو وویشتل. د دې کسانو مړي له دوه ورځو وروسته د ښځو له خوا کور ته ننویستل شول. د ترلاسه شویو معلوماتو پر بنسټ، د دې شخص ټوله کورنۍ اوس بل ځای ته بې ځایه شوي دي.

طالبانو بلخاب ولسوالۍ ته د ننوتلو په لاره کې د جگړې د لومړۍ لیکې په ماتېدو له یو شپون سره مخ کېږي، چې له هر ډول خبرتیا پرته هغه له مولوي مهدي سره د همکارۍ په تور په ډزو وژني.

د بلخاب له جگړې یوه اونۍ وروسته د څلورو نورو کسانو مړي چې ټول عادي کارگر او ملکي خلک و له (گلورز او شاخدار) سیمو څخه پیدا شول. سیمه ییزو سرچینو ویلي چې دا کسان د غره په لور د تېښتې پر مهال د طالبانو له خوا په ډزو وژل شوي.

د (پروشان) کلي یو اوسېدونکی (ملکي وگړی) وروسته له هغې چې دوه شپې ورځې یې په غره کې تېرې کړې وې، د اوبو او ډوډۍ لپاره خپل کور ته ستنیږي، چې د طالبانو له خوا نیول کیږي او په ډزو وژل کیږي.

د (هوش) کلي اوسېدونکی یو ملکي وگړی، چې په خپل پټي کې کار کاوه، د طالبانو له خوا په ډزو وژل شوی دی.

> په دې موده کې د طالبانو عمل په ډاگه کړې ،چې دا ډله نه یواځې دا چې لازمه پوهه او د بشر د حقونو د رعایتولو اراده نه لري، بلکې پرله پسې او بیا بیا یې د بشر حقونه او نړیوال بشرپال حقونه نقض کړي دي.

## پایله

اوس چې د طالبانو د بیا راتلو پنځلس میاشتي تیریږي، موږ په هیواد کې د بشر حقونو د سرغړونو او نړیوال بشرپالو حقونو د سرغړونو د ډېر شمېر قضیو شاهدان یوو. په دې موده کې، سلګونه تنه هیوادوال په هدفي ډول او له محاکمې پرته وژل شوي دي، او د مرتکبانو د عدلي او قضایي تعقیب اړوند هیڅ کوم اقدام نه دی ترسره شوی، چې دا چاره له مجازاتو څخه د بشر حقونو د سرغړونو د عاملانو د معافیت او مصئونیت سبب شوې.

له بل پلوه، په دې موده کې د طالبانو عمل په ډاګه کړې ،چې دا ډله نه یواځې دا چې لازمه پوهه او د بشر د حقونو د رعایتولو اراده نه لري، بلکې پرله پسې او بیا بیا یې د بشر حقونه او نړیوال بشرپال حقونه نقض کړي دي. طالبانو په پنجشېر ولایت او د سرپل ولایت په بلخاب ولسوالۍ کې د ملي مقاومت جبهې د تسلیم شویو کسانو او اسیرانو او ملکي خلکو په وژلو سره نړیوال بشرپال حقونه نقض کړي دي. سربېره پر دې، په ننګرهار او کندهار ولایتونو کې د تورونو او هدفي وژنو د مخنیوي لپاره د طالبانو د لېوالتیا نشتوالی پوښتنې راولاړوي، او دا چاره د دا ډول پېښو د ورځ په ورځ زیاتېدو لامل شوې.

دا ټولې پېښې ښیي چې په تېر پنځلسو میاشتو کې د افغانستان د خلکو د ژوند حق به بېلابېلو بڼو نقض شوی، او تر اوسه د عدالت د تطبیق او د دې پېښو د قربانیانو د درد او کړاو د کمولو لپاره هیڅ اغېزناک اقدام نه دی شوی.

## وړاندیزونه

**طالبانو ته د حاکمو چارواکو په توګه:**

- ژر تر ژره د خپلو ځواکونو له خوا له محاکمې پرته وژنو او هدفي وژنو ته د پای ټکی کېږدئ، او د دا ډول اعمالو عاملان او مرتکبان محاکمه او مجازات کړئ.
- د مخکني حکومت د منسوبینو او سلفیانو د مرموزو وژنو د مخنیوي لپاره لازم اقدامات ترسره کړئ، او د دې پېښو د عاملانو د محکمې راکش کولو لپاره اړین تدابیر ونیسئ.
- باید بشري حقونو سازمانونو او رسنیو ته د بشر حقونو د سرغړونو د پېښو د څېړنو او ارزونو لپاره بشپړه د لاسرسي زمینه برابره کړئ، څو له دې لارې په هیواد کې د بشر حقونو د سرغړنو د مواردو د مستقلې او اړخیزې مستندسازۍ امکان برابر شي.
- سمدستي د قربانیانو کورنیو ته د خسارې مناسب جبران امکان برابر کړئ.

**ملګرو ملتونو سازمان ته**

- د ملګرو ملتونو مرستیاله استازولي (یوناما) باید خپلې دندې په بشپړه توګه او له خپل ماموریت سره سم د بشر حقونو د سرغړونو د مواردو د څېړنې او ارزونې په برخه کې اجرا کړي، او په منظمه بڼه په هیواد کې د بشر حقونو د وضعیت اړوند رپوټونه او معلومات ورکړي.

**بین المللي جزایي محکمې ته**

- رواداري په افغانستان کې د بین المللي جزایي محکمې له خوا د څېړنو له سره د پیلولو د تیاري اعلان ملاتړ کوي او له یادې محکمې غواړي چې له خپل قضایي صلاحیت سره سم، د هغو بین المللي جرایمو اړوند چې په افغانستان کې ترسره شوي، اغېزناک اقدامات پیل کړي.

## د رواداري بنسټ په اړه

رواداري یو خپلواک او بې پرې بنسټ دی چې پر بشر حقونو د څارنې، په افغانستان کې د بشر حقونو د کلتور د پراختیا، حساب ورکوونی، او د قرباني محوره عدالت د فرهنګ د تامینولو په موخه رامنځته شوی. دا بنسټ د بې پریتوب د اصل په بشپړ رعایت او د بشر حقونو اړوندو ټولو منل شویو نړیوالو اصولو او معیارونو ته په درنښت، خپلې چارې پر مخ وړي، چې دغه راپور هم په همدې موخه د بشر حقونو د سرغړونې پېښې، څرنګه چې پېښې شوې دي، په ریښتینولی سره خپروي.